ليکوال: محمد اياز نوري تاريخ ۱۵/۰۸/۲۰۰۸

# د امانی استقلال شهید او غازی ته په درنښت کی




درنو هيواد والو افغانانو! تاسو ته د امانی خپلواکی د نهه اتيايمی کليزی په ويار تودې مبارکی وړاندی کوم. د نن څخه نهه اتيا کاله پخوا افغانانو په داسی حال کی چی دوی د وخت د زورور استعمار، انګريز تر حکم لاندی وو په يوه اتفاق راپورته شول او بی له دی چی کوم بل هيواد ته هجرت وکړي يا د کوم بهرنی هيواد څخه يوه ابه او پيسه مرسته تر لاسه کړي او يا هم دښمن ته عذر يا زاری وکړي د خپل لوی مشر اعليحضرت امان الله خان په امر يې پرغليم يرغل ورووړ. د افغانستان ولس د خپل سر او مال په بيه يعنی د تودې جګړې په ذريعه انګريزانو ته ماته ورکړه او خپله آزادی يې ورباندې ومنله. دلته لازمه ګڼم چی د دی سترې ملی او تاريخی معرکی په باب په لنډ ډول تم شم.

د ۱۹۱۹کال د فروری په ۲۱ شپه د افغانستان پاچا امير حبيب الله خان د لغمان په ولايت کی په مرموز ډول ووژل شو او پس له دريو ورځو د امير دريم مشر زوی چی په عين حال کی د شاهی مقام وکيل هم وه د بادشاهی مقام ته وټاکل شو. البته دا انتخاب کوم تصادفی پيښه نه وه بلکی سردار امان الله خان د دوهم مشروطيت مشر وه. اعليحضرت امان الله خان د ۱۹۱۹ کال د مارچ په۳ د برتانوی هند نايب السلطنه ته د افغانستان د بشپړ استقلال د تصديق کولو په مقصد يو رسمی ليک ولېږه اما کوم مثبت ځواب يی تر لاسه نه کړ. ځوان پاچا د انګريز په نيت پوی شو او د هيواد خټيځ او جنوب ته يی د بوځی سفر بری امر صادر کړ.په عين وخت کی د محکوم پښتونستان له خوا هم په زرهاوو وسله وال افغانان د جګړی لپاره تيار شول او ورپسی ولسی مشران لکه سيد فضل واحد حاجی صاحب د ترنګزو او ملا صاحب چګنور له آزاد سرحد څخه جلال آباد ته راورسيدل.اعليحضرت امان الله خان د جګړی محاذونه په دريو برخو وويشل:

**د خيبر محاذ:** د دی ډيرې مهمی جبهی سر قوماندان د وخت د حربيی وزير جنرال صالح محمد خان او مرستيال يی کنډک مشر محمد ګل خان وټاکل شول. په عين زمان کی امير امان الله خان صالح محمد خان ته هدايت ورکړ چی ته به د تورخم سرحدی نقطی ته ځان رسوی او کوم وخت چی د ترنګزو د حاجی صاحب مجاهدينو سره تماس حاصل کړی او د دوو نورو محاذونو يعنی پکتيا او قندهار پوځيان ټاکل شويو سرحدی نقطو ته ورسيږی په يوه وخت به پر غليم يرغل پيل کيږي او ته به د پيښور په استقامت مارش کوی او هغه ښار به نيسی.کله چی جنرال صالح محمد خان د خيبر دروازی ته رسيږی د هغه هغه منفی احساسات وربانی غلبه کوی بی له تامل څخه د می په دريمه خپل پوځ ته د يرغل امر ورکوی تر څو لومړنی افغانی افسر وی چی د پيښور مهم ښار يی نيولی وی...!؟. دا په داسی حال کی چی د بکتيا او قندهار قواوو سرحدی کربنه ته ايله نيمه لاره وهلی وه. صالح محمد خان د ديورند بی معنی کربنه پريکوی او د لنډی کوتل په جنوب کی کافر کوټ، باغ، سپر او سپينات تر خپل اشغال لاندی راولی. د می په ۵ انګريزی قواوی لنډی کوتل ته رارسيږی او په ۶ د می جګړه پيل کيږی. په ۱۱ د می انګريزانو ځمکنی او هوايی يرغل په افغانی پوځ باندی پيل کړ. پدی عين کی يوه بله انګريزی کومکي فرقه هم له راولپنډی څخه د خيبر دری ته راورسيده. سره د دی نابرابره مقابلی افغان پوځ په ميړانه جنګيده اما د دشمن مرګ ژوبله اوچته وه. په داسی حال کی چی جګړه د افغانی لوری په بری روانه وه د اپريدیو قوم هم د محمد عمر خان په مشری افغانی پوځ ته لاس ورکړ . پدی عين کی جنرال صالح محمد خان د لاس په ګوته ټپی شو او د خپل پوځی ياور محمد ګل خان سره يی د جګړی ډګر پرېښود او افغان پوځ ته يی د په شاه تګ امر ور صادر کړ. انګريزانو چی دا حالت ولېد زړور شول او په ۱۴ د می يی سرحدی کربنه ماته او ډکه يی ونيوله ليکن په دی عين کی کنډک مشر محمد صديق خان په ميړانی سره بيرته په کمکی خيبر يرغل ورووړ انګريزی قوا يی ماته اوهغوی وتښتيدل اما په سبا يی غليم بيا تعرض پيل او په لوړو تلفاتو يی افغانی پوځ په شا وتمباوه. پدی زمان کی د ملی مجاهدينو ګروپونه په ټول ننګرهار او لغمان کی جګړی ته د هغوی د مشرانو په شمول تيار شوي ول او


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

د مرکز ځخه هم یو تکړه قوماندان غلام نبی خان چرخی او دوه نور میرنی پوځیان لکه جنرال محمد عمر خان (سور جرنیل) او جنرال محمد اکلیل خان بدخشانی د پوځی موضعګانو د ټیګتیا لپاره جلال آباد ته سوق شول.په ۱۴ د می انګریزی قواء د جلال آباد په لور مارش پیل کړ او د باسول په سیمه کی د افغانی قواوو سره مخامخ شول. دا جګړه دومره سخته او زوروره وه چی دی وسلی د استعمال ځخه د لاس او ګریوان حالت ته ووتله...!؟. افغانان په میرانه جنګیدل. انګریزانو د تسلیم لاسونه پورته کړل او بیرته ډکی ته وتښتیدل.
د چترال په محاذ کی هم افغان پوځ د جنرال عبدالوکیل خان نورستانی تر مشری لاندی خپل تعرض ته دوام ورکړ او د کنړ خان میر زمان خان په مل توب یی د می په ۱۲ د ارنوی په سیمه کی د انګریزی پوځ سره جګړه وکړه تر څو د افغان دولت او انګریزانو تر منځ اوربند اعلان شو.

**د قندهار جبهه**: **د** قندهار د محاذ قیادت د سردار عبدالقدوس خان سره وه چی د خپلی عسکری قطعی او زرهاوو داوطلبو ځان فدایانو سره یی د اپریل په لومړیو کی د سپین بولدک په طرف حرکت وکړ.انګریزان له دی وضعیت ځخه سخت په ډار کی ولویدل او د افغانانو د نفاق لپاره یی د حنفی مذهبه قندهاریانو د یوه ماشوم په وژلو او د هغه د جسد د بی پته کولو په ذریعه یی دغه عمل ګویا د ښار په شیعه میشتو ورتهمت کړ چی په نتیجه کی د مجاهدینو تر منځ درز پیدا شو. مګر په هر حال سردار عبدالقدوس خان د خپلی قوا سره د دیورند د کرښی ځخه واوښت او ځان یی د بغره سیمی ته ورساوه او د اوبو سرچینه یی ونیوله.د سردار پوځ نه یوازی چمن بلکه د کوټی ښار یی هم تر خپل تهدید لاندی راووست او مخ کی له دې چی دئ په عملی تعرض پیل وکړی د فریقو تر منځ اوربند اعلان شو.

**د پکتیا محاذ**: د دی جبهی مشر جنرال محمد نادر خان وټاکل شو او هغه د اپریل په ۲۴ ګردیز ته ورسید. د پکتیا مختلفو قومونو د خپل ملی اتل اعلیحضرت امان الله خان له خوا انګریز سره د جګړی اعلان داسی استقبال کړ لکه هغه غازی چی دوی کوم واده ته وربللی وي...!؟. په ۱۴ د می جنرال نادر خان لومړی د خوست متون او له هغه ځایه یی ځان سپین وام ته ورساوو. دا وخت د دیورند د کرښی هغه خوا مسعود مجاهدینو لا د وخته په انګریزانو حملی پیل کړی وي. نادر خان په ټل، سردار شاه ولی خان د وزیرستان او شاه محمود خان د پیوار پر استقامت یرغل ته چمتو شول. د مسعود قوم انګریزان په وانه او سپین وام کی محاصره کړل. نادرخان د می په۲۳ د خپلو دری زرو پوځیانو او لس زره ملی مجاهدینو سره په سپین وام کی موضع نیولی وه . انګریزانو له ډاره خپلی قشلی ته اور ورته کړ او په تښته یی بیل وکړ. سپین وام افغانانو فتح کړ. د می تر پایه هنګو او میران شاه هم محاصره شول. انګریزانو وانه، توچی او ګومل تخلیه کړل او مخه کوټ او ژوب کی یی موضع ونیولې لیکن مخه کوټ ته هم مسعود ورپسی ورغلل او انګریزانو مخ په سندیمان تښته وکړه. دوی مجبور شول د دی موضع د ساتلو لپاره دوه قوی فرقی د کوټي ځخه راانتقال کړي.
**د پیوار په محاذ کی:** د دی جبهی قوماندان سردار شاه محمود خان دغه جبهه په دوو پیاده ټولیو او دوو غرنیو توپونو تقویه کړه. د دی سیمی مربوطه قومونو او د کرښی هغی خوا میشته افغانانوخپل مجاهدین د هیواد د آزادی لپاره تیار کړل. د می په ۲۱ سهار مل انګریزی پوځ د پیوار جګړه پیل کړه چی د افغانانو له خوا په شدت سره بیرته په شا وتمبول شوه. د می په ۲۳ سهاری افغانی قواء په دښمن یرغل وکړ، دشمن په شکست سره د کرپی غونډی له لاسه ورکړي او د توتکی په استقامت یی تیښته وکړه.افغانانوتعرض ته دوام ورکاوه اوله پیوار ځخه ورتیر او تر مابښام پوري یی د توری په مټ شلوزایی هم له غلیم ځخه ونیوله. په همدی جګړه کی ملک اکبر خان شهید شو او افغانی قواء د شیرنو غنډی تسخیر او تولیمشر شیراحمد خان شهید او کنډک مشر محمد قاسم خان ټپی شول. له بلی خوا د ځاځیو د لیوانی د قوم سرتیرو لکه سیلاب پر دښمن یرغل وروړ او د پیوار کوتل په بشپړه توګه افغانانو ونیو چی په همدی وخت کی د اوربند اعلان وشو او د افغانانو په زیان تمام شو.

**د ټل محاذ**: جنرال محمد نادر خان د می په ۲۶ د ۱۱ زرو ملی لښکر چی خوست وال او وزیر ول او د ۳ زرو منظمو عسکرو سره په ناڅاپی ډول ټل ته ورسید او حاکمی نقطی یی ونیولی. د غلیم د سختی هوایی بمباریو په ترڅ کی تولیمشر احمد جان خان د شهادت لوړ مقام ته ورسید. نادر خان د ټل پوځی کلا د اور لاندی ونیوه د تیلو، لرګیو او آذوقی ذیرمو اور واخسیت او دښمن په تیښته شو او بالخره یی د تسلیمی بیرغ اوچت کړ.مګر افغانانو یرغل ته دوام ورکړ او انګریزی افسرانو په تیښته پیل وکړ. افغانی پوځ ټل په بشپړه توګه فتح او د ګران افغانستان ویاړمن بیرغ یی هلته جګ وزاړوه!!. په همدی موقع د اوربند اعلان او دا عمل بیا د افغانی لوری په زیان او د مکار انګریز په ګټه تمام شو.
په دی ترتیب دا وو د افغان او انګریز د دریم جنګ لنډ صورتحال چی د شهید او غازی په ویاړ درنو لوستونکو ته پیشکش شو. به هر حال که ځه هم د دی لویی اتلولی په نتیجه کی د اوسنی افغانستان مکمله خپلواکی تر لاسه شوه مګر


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

په افسوس سره چې د کربنې د هغې خوا افغانانو برخه لیک قاطعانه او عادلانه تثبیت نه شو. دا چې غازی اعلیحضرت امان الله خان او یارانو یې ولې داسې ژر د غلیم سره اوربند ومانه، یوه پیچلي تاریخي معما او مسله ده.
**نتیجه:** زمونږ ګران هیواد د نن ځخه ۸۹ کاله پخوا خپل استقلال حاصل او هیواد د امانی دور په لس کلن بهیر کی د ترقی او سوکالی لپاره مضبوط بنسټونه رامنځ شول چې د ځوان پاچا په یو شمیر تیروتنو د وګړو د ناپوهی او په مورچل کی لاس په ماشه ناست دښمن یعنی انګریز او د غله حبیب الله بچه سقو په خاینانه عمل سره امانی دولت له منځه ولاړ او له هغې شیبې بیا تر اوسه پوری افغان ویاړمن ولس نیکمرغه حالت ونه لید. د افغانستان د ننی ناورین او بربادی اصلی مسوولین د سقو زوی حبیب الله، جنرال او بیا پاچا نادر خان او ورسره ورونه یی او ورپسی د هغه زوی ظاهرشاه او داود شاه او د هغوی د نسونو ځخه زیږیدلی خلقی کمونیستان، پرچمی کمونیستان او د اسلام تش په نامه مشران او رهبران دي چې دوی ټول به افغان ولس او لوی خدای ته ځواب وایی. ځکه لمړنی دری ټولواکان په اعلیحضرت غازی امان الله خان باندی داوطلب شول چې ته د افغانستان د بادشاهۍ د مقام ځخه لرې شه !! مونږ ستا ځخه افغانستان ته بهتر خدمت کولای شو!! په داسی حال کی چې هغه غازی پاچا تر ۱۳۳۹ هجری کال پوری ژوندۍ او په ایټالیا کی جزایی لاس تر زنی ناست وه...؟!. نن زمونږ ملی حاکمیت موجود ندی او دا وار امریکا او انګریز سره د نورو پلویانو یی زمونږ پر هیواد پوځی یرغل راوړی. زما پیغام دوی ته دا دی چې مونږ هم یو مستقل ملت یو تاسو باید مونږ ته او زمونږ ملی خپلواکۍ ته درنشت وکړۍ په غیر د دی صورت کی په زور کلی نه کیږي.

**اخځلیک:**
افغان تاریخ پوه مرحوم میرغلام محمد غبار ( افغانستان د تاریخ په بهیر کی)
د حاجی صاحب ترنګزي لمسی پخوانی جګړن سید بشیر احمد خان
د استقلال جګړه او د چترال هیره شوي جبهه، مولف ډاکتر عبدالرحمن زمانی


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de